# تنقید او تحقیق



۱۹۹۴ مقاله

صاحب شاه صابر

# تنقید او تحقیق

صاحب شاه صابر

انساني برکت په علم دے، علم په معلوماتو درنیږي او معلومات په تحقیق کیږي، د تحقیق جذبه د انسان په تخته کښې ایښې شوې ده، د دغه جذبې په زور انسان د خپلې ارتقا زینه پاوڅے سفر آسان کړے دے، د خپل وجود، خپل ماحول خپلې دنیا او خپلو کائیناتو د هیئت او ماهیت په حقله انسان ټول عمر سوالونه راپورته کړي دي، د دغه سوالونو جوابونه یې لټولي دي، بې شکه چې په یو وخت کښې به دغه سوالونه ساده او جوابونه شهړک وُ خو هسې نه وُو. انسان هم دغه عمل هم د دغه موضوعاتو د مختلفو اړخونو په حقله د ګرانو سوالونو راپورته کولو او پیچیده جوابونو لټولو څوګه کړے دے. دغسې د انسان په معلوماتو کښې درناوے راغلے او د علم خزانه درنه شوې ده، څومره چې د یو قام یا انساني ټولنې دغه خزانه درنه ده دومره یې نوم ناموس او برکت زیات دے.

انسان چې د تحقیق د کومې جذبې په زور د ذرې زړه ته ننوتے او د نمر ستن که یې پېژندلې، د څاڅکي په وجود کښې ننوتے او د سمندر رولېنې ته کوز شوے، په خپل رګ یې ګوتې ایښې

Pukhto.Net پښتو

اُو دَخپل زړهٔ دَ حاله خبر شوے، هغه جذبه په خپله لوه دنیا جوړه شوې، دَ دغه دنیا دَ وجود اَو پیژندګلو په حقله کښې شمیره سوالونه راپورته شوی اُو راپورته کیږی لکه دا چې تحقیق څهٔ دے، څنګه دے، څهٔ کولے شی، څنګه کولے شی، په دې کښې دَ کومو خیرو خیال ساتل پکار دی، دَ نورو کومو علمونو سره یې تعلق جوړیږی ؟ دَ کوم علم سره زیات نزدیکت لری؟

په دې حقله کښې جوابونه شوی دی اَو اکثر جوابونه په خوا رکه پیدا شوی دی - دَ معلوماتو ترټه تحقیق دَ عربي اصطلاح ده اَو په هغه معنو کښې استعمالیږی په کوم کښې چې دَ انګریزۍ "ریسرچ" استعمالیږی" ملک رام دَ یوې علمی مقالې "اُردو میں تحقیق" دَ معلوماتو ترټه دَ دغه عربي اصطلاح ماده ح - ق - ق - ده چې معنی یې "دَ کره کوتنه کتنه یا دَ خبرې تصدیق کول دی - مقصد یې دا پکار دے چې موږ په خپل علم و ادب کښې دَ کره نه کوتنه دَ متن نه پوسته اَو دَ رښتیا وُنه دروغ بیل کړو - دَ انګریزۍ دَ ریسرچ تکی هم دغه معنی اَو مقصد دے"

تحقیق دَ رښتیا وُ دَ لټونے نوم دے - څهٔ خبرې، څینې دعوې اَو څینې مفروضې شکی وی، تحقیق یا خو دَ هغې تصدیق کوی اَو یا تردید - دغسې دَ انسان شک په یقین بدلوی خو دغه یقین دا سې په اسانه نهٔ پیدا کیږی - په دې حقله معلومات راغونډولے شی دَ هغې معلوماتو تجزیه کولے شی اَو دَ هغې نه څهٔ نتیجې راویستے شی خو دغه هر څهٔ په راوی، روایت اَو وسائل فرمائیلی نهٔ کیږی، دغه هس څهٔ په سائنسی ډول ترسره کیږی ځکه چې " دَ تحقیق غیر سائنسی

Pukhto.Net
پښتو

نوعیت څرنګه څه تصور لري او نه وجود ....؟

د تحقیق کړنې قسمونه دي څو هر قسم یې د نوعیت له اعتباره ساینسي دي۔

په تحقیق کښې د معلوماتو راغونډول او راغونډو معلوماتو نه د نتیجې راویستو د پاره په صدو صدو د ارسطو استخراجي (Deductive) طریقه معتبره ګڼلې شوه خو د وخت سره سره دغه طریقه ډیره اعتباري پاتې نه شوه ۔ په وروستو زمانه کښې فرانسیسي پوهان راجر بیکن د دغه طریقې په ضد استخرائي (Inductive) طریقه رواجنې ته کړه ۔ د هغه نه پس هم د هغه د مک یو بل پوهان فرانسیسي بیکن دغه طریقه ترغیبله وسره اعتباري وګرځوله په ډیرو لږو سره یې هم دغه یو رواځنی صحي طریقه وګڼله او د ساینسي طریقې په نوم یې یاده کړه ولې دغه طریقه هم څه کمي او کمزوري لري ۔ د دغه خاطره په اوسني تحقیق کښې دغه دواړه طریقې په کار راوستې شي۔

اګرچې د تحقیق مقصد د معنې نه ښکاره دے خو په دې حقله ځینې خلق په دې تېروځي چې ګني د تحقیق مقصد ځینې خبرې ځینونه او ثبوتونه راغونډول دي ۔ اګرچې دغه خوارې د قدر وړ وي او دغه هر څه په تحقیق کښې اسانې پیدا کوي خو صرف دغه راغونډونه د تحقیق شرط نه پوره کوي ۔ تحقیق هله تحقیق شي چې په یوه موضوع د راغونډ کړې شوو موادو نه اعتباري نتیجې را او ویستې شي ۔

" د تحقیق منشاء د نوي حقیقتونو لټول او د معلومو حقیقتونو

تصدیق یا تصحیح کول دي. چې په کومه موضوع تحقیق کیږي په هغې نوې خبره کیږي یا ئې نوے اړخ راښکاره کولے شي، خو ضروري نه ده چې خبره بالکل نوې وي. تحقیق دا هم دے چې که په یوه موضوع د ځکینې نه شوې خبره په معلوماتي توګه درنه کړے شي یا ئې نوے تعبیر اوشي.......؟ (۳)

دَ تحقیق مقصد ښکاره دی، دَ انسان دَ خبرو وي.

" Research is simply the manner in which man solve the knotty problems in their attempt to push back the frontiers of human ignorance." (۳)

علم که هر څو یو اکائي ده خو دَ ژوند او جهان اړخونه ډیر زیات دي دَ دغه اړخونو دَ ښکاره او اهمیت له کبله علم په مختلفو برخو کښې ویشلے شوے دے. په هره څانګه کښې څانګړے تحقیق روان دے، دغسې تحقیق هم په بلا څانګو کښې ویشلے شوے دے چې یوه څانګه ئې دَ "ادبي تحقیق" په نوم یادیږي.

" دَ حقائقو سر دوباره کول. دَ رښتیا ولټول. دَ حقائقو یقین او دَ دې نه څه نتیجې راویستل دَ ادبي تحقیق مقصد دے، یا کیده شي پکار دي."

په ادبي تحقیق کښې دَ دغه یو څو خبرو او مروج خیال ساتل په کار دي.

۱. تحقیق عقلي او علمي عمل دے، دغه عمل ته دَ ملا تړلو

نه وړاندې انسان ته د خپل عقل او معلوماتو اندازه لګول
په کار دی، د ځان نه تپوس په کار دے چې زه به څه
لیکم - ولې لیکم - څنګه به لیکم او د دغه کار نن سره کولو
څومره توان لرم؟

۲- په تحقیق کښې د موضوع انتخاب مهمه مسئله وی -
د دغه انتخاب په لړکښې اول د خپلې دلچسپۍ خیال ساتل
په کار دی ځکه چې د ذاتي دلچسپۍ نه بغیر د زړه د
خلاصه کار نه شی کیدے - بیا داکتل دی چې دغه
موضوع د انساني ژوند، ټولنې، قام او وطن د پاره
څومره مهمه ده بیا د معلومات کوم په کار دی چې په
دغه موضوع څه مواد شته او که نا؟ - که شته نو هغه
تر لاسه کیدے شی که نا؟ - که تر لاسه کیدے شی نو په
کار راوستے کیدے شی که نا؟ په دغه حقله مخکښې یو
چا څه کار کړے که نا؟ - که شوے نو څه نیمګړتیا وې
لرې او که نا؟ که څه نیمګړتیا لری نو هغه پوره کیدے
شی که نه شی؟ -

ځکه چې په اکثرو ژبو او خصوصاً پښتو کښې اکثر لیکونکیو
یا خو موضوع د سرکاری نکتهٔ نظر په کړتاپ کړې ده -- د
خپل صلاحیت او خپلې دلچسپۍ په ځای ئې هغه نوم ناموس
او ګټې وټې په نظر کښې ساتلې دی کومې چې د هغه
موضوعاتو د خبرېدو سره تړلې وی، د دې نه خو هغوی هغه

Pukhto.Net پښتو

خوشحالي وسومي کومه چې د يو کار ترسره کولو نه پس انسان
ته ملاويږي او نه د موضوع حق اداکړي.

او ياپه د خپل ځان اهل کتاب ګرځولو د پاره په يوه
موضوع ځانګړتيا ليک کړې دے، د ټکو او جملو د تړوت
او ترتيب په بدلون يې هم هغه معلومات وړاندې کړي دي
کوم چې څه موده وړاندې بل چا محقق دنيا ته وړاندې
کړي دي.

دغسې که سړے اهل کتاب شي نو اهل علم نه شي کيدے
او که نن يې څوک د ياري دوستۍ او مشرۍ کشرۍ خيال
وساتي خو د صبا محقق به يې هيڅ خاطر و نه کړي.

۳- په تحقيق کښې انسان د هر هغه څيز او هر هغه سړي نه
استفاده کوي کوم چې د استفادې جوګه وي بلکې د
نورو ژبو د عالمانو فاضلانو د علمي او تحقيقي کارنامو
سره سره د خپلې ژبې د نوموړو عالمانو په زړه پورې
کارنامې هم په غوره کتل په کار دي.

د ليک په وخت کښې په دې خبره بيا بيا سوچ په کار
دے چې که په دغه موضوع دغه مواد د فلاني يا فلاني
عالم تر لاسه شوے وے نو هغه به لوستونکو ته په کوم
ډول او څنګه وړاندې کولے او ماله څنګه په کار دي.

دغسې چې د ليک اعلی نمونې په نظر کښې وساتلے شي نو
ليکونکے د معياري ليک کوشش کولے شي.

Pukhto.Net
پښتو

۴- څو په موضوع چې دَ ليک دَ پاره خوښه کړے شي په هغې دَ عالمانو فاضلانو سره دَ بحث مباحثې اَو مشورې سره سره دَ هغه ليکونو ژوره مطالعه په کار ده کوم چې په دغه حقله شوي وي. په سپين زړهٔ اَو روغ نيت دَ دغه ليکونو تنقيدي جاج اَخستل په کار دي. که دَ څه عالم دَ لوې رائې يا نظريې سره اختلاف ښکاره کول وي نو دَ هغې پوره اَو مناسب ذکر په کار دے اَو که دوه متضاد نظريې ذکر کول وي نو مناسب دي چې دواړو ته پوره ځائې ورکړے شي. بيکونکے که دغه دواړه نظريې رد کوي اَو دَ لوې سره اتفاق يا اختلاف کوي نو حق لري خو خپله خبره دې په کوتلي دليل اَو ثبوت سره وکړي.

۵- په تحقيق کښې انسان دَ مختلفو کتابونو، مجلو، دستاويزاتو اَو شخصياتو استفاده کوي. دَ دغه ټولو ذکر اَو اعتراف دَ تحقيق دَ مزاج اَو رواياتو تر مخه ضروري وي.

۶- دَ تحقيق يقيني کولو دَ پاره تر ممکنه حده اصلي موادو ته رسيدګا په کار دي. په ثانوي موادو ډېره تکيه نهٔ ده په کار. ځينې هم په ثانوي مأخذ شمېرلے شي خو که مجبوري شي نو استفاده ترې کيدے شي.

۷- په تحقيق کښې نوې خبرهٔ دَ شهادتونو په حواله کيږي، خو شهادتونه هم دَ منلو قابل. روايت هم په کار راوستے شي خو صرف دَ روايت په حواله دعوىٰ تحقيق نهٔ شي منلے کيدے

Pukhto.Net

دَ لرغونو پښتنو شاعرانو دَ ژوند په حقله اکثر دعوې او معلومات دَ روایاتو په حواله شوي دي، دوه ځلورو کسانو دَ روایاتو دَ تنقیدي جاج سره سره دَ منلو قابله شواهدو ته هم ورپاملرنې کړې دي. دَ دغه کیله دَ هغوي تحقیق دَ نورو اکثرو کسانو نه بهتر او په بدل ډول دی دلته داخبره یاد ساتل په کار دي چې په تحقیق کښې هر بیان حواله او سند غواړي - لوي خبره بې سنده هم کیدے شي خو هله که دَ هغه دعوو او شواهدو تونو حوالې موجود وي دَ کومو په بنیاد چې دغه لوي خبره شوې وي

۸- په تحقیق کښې دَ اعتباري کلیو او مفروضو په ځنګ ځنګ کښې دَ واقعاتو صحي او درست بیان، دَ مبالغې جذباتیت عمومي دعوې او عمومیت دوه کولو سره سره دَ سنجیده او کوټلې لیک کوشش په کار دے.

۹- تحقیق کونکے دَ چټک او منطقي ذهن سره سره دَ مهذب شخصیت څښتن په کار دے چې دَ حقائقو دَ کره کتنې سره سره دَ خپلو لوستونکو دَ پوهې، ذوق، معلوماتو او سرېتوب اندازه هم کولے شي۔

۱۰- دَ خپلې رائې درلودل، خپلې خبرې مضبوطول، په خپل بیان کښې دَ لوې ګرانې اسانول، دَ خپل لیک دَ کمې پوره کولو یا دَ خپل عبارت دَ روانې ساتلو دَ پاره دَ ځینې خیالاتو او نظریاتو وضاحت وروستي کولو دَ پاره په تحقیق کښې

اقتباسات، حوالې او حاشيې راوړے شي خو دغه هرڅۀ په ترتيب، طريقه او حساب په کار وي - کۀ بې ترتيبه او بې طريقې شي نو د ليک معيار به وغورځوي او کۀ په حساب نۀ وي نو اصلي خبره به پس منظر ته لاړه شي - ترحمکنه حده او په ضروري ځايونو کښې اقتباسات لنډ، حوالې کمې او حاشيې مناسب په کار دي-

د عملي ميدانونو د کړو والي له کبله تحقيق هم په څلورو قسمونو کښې وېشلے شوے دے چې په هغې کښې يو په ادبي تحقيق يادېږي، په ادبي تحقيق کښې ادبي موضوعات او اصناف څېړلے شي-

د ادبي تحقيق او تنقيد ترمينځه ډېر نزدې او لازمي تعلق دے - د تحقيق نه بغير تنقيد د اعتبار وړ کېدے نۀ شي او د تنقيد ي جاج نه بغير په تحقيق کښې درستې نتيجې نۀ شي راويستے کېدے-

هر کله چې د يو شاعر د کلام تنقيدي جاج اخستے شي نو اول داکتے شي چې دغه کلام د هغه شاعر دے هم او کۀ نا- ايا داسې خو نۀ دي شوي چې دغه کلام يا د کلام څۀ برخه د چا بل شاعر وي خو د ده په کلام کښې شامل کړے شوې وي - زمونږ د لرغونو شاعرانو په ديوانونو کښې دغسې تېروتنې ډېرې کېدے شي -

د لرغونو شاعرانو په کلامونو کښې ډېر شعرونه د فکر و فن له

اړخه ډېر داسې نزدېکت لري چې د نقل او سرقې ګمان پرې کېدے شي او د تنقيدي جاج په وخت کښې دغه فيصله کول ګرانه وي چې کوم شاعر د کوم شاعر نقل کړے دے.

دغه ګرانې په تحقيق آسانېدے شي. که د يو شاعر د ديوان د مختلفو قلمي نسخو په لټون او کتنه د هغه په کلام کښې د پړدو شعرونو ګډون معلومېده آسانېدے شي نو د شاعرانو د وخت زمانې، علاقې، تعليم او تربيت په حقله د معلوماتو په رڼا کښې دا معلومول آسان وي چې کوم شعر په رومبي ځل چا تخليق کړے او بل شاعر څنګه خپل کړے دے...

......بلکې د دې خبرې هم ډېر امکان وي چې دغه دواړو شاعرانو په بېل بېل وخت کښې په خپل خپل سمې د يو بل ژبې استفاده کړې وي.

د ځينې پوهانو په خيال د يو تصنيف د صحي جاج اخستو د پاره د مصنف د ژوند واقعات، تعليم وتربيت او ماحول معلومول ضروري وي ځکه چې د مصنف په تصنيف د دغه ټولو شيانو ژور اثر وي... خو دغه هر څه په تحقيق معلومېدے شي.

دغسې په هر جوړ او هر قسمه تنقيد د پاره تحقيق ضروري او لازمي وي. "تحقيق د تنقيد بنيادونه درستوي" که تحقيق و نه کړے شي نو د لوئ نه لوئ نقاد به د يو فنپارې يا ادبي دستاوېز په حقله د صحي رائې ورکولو جوګه نه شي او که رائې ورکړي نو امکان لري چې تېر وځي. "بې تحقيقه تنقيد ګويا ګوډ دلوا

تر اسمانه اوچتول دي." (۲) ګویا د تحقیق تجزیې نه بغیر
تنقیدي انصاف نه شي کیدے، خود تنقید دغه محتاجي
لواړخیزه نه ده. تحقیق هم په هر قدم د تنقید محتاج دے
د مثال په توګه د ادبي تحقیق ډیره مهمه او بنیادي مسئله د متن
تحقیق او تصحیح ده یعنې د یو تصنیف غیر ضروري یا پاتې
شوې برخې په نښه کول دي خود تنقیدي شعور نه بغیر دغه کار
نه شي ترسره کیدے.

هر محقق د خپلې موضوع په حقله د موادو اوشهادتونو په رڼا
کښې رایې ورکوي، د دغه موادو او شهادتونو د روغ رښتیا، اهمیت او
افادیت په تنقیدي کتنه ممکن کیدے شي. د اردو ژبې لوئ عالم
او نامتو محقق ډاکټر سید عبدالله د تحقیق او تنقید د تړون په حقله
څه داسې رایې لري.

"په تنقید کښې هم د تحقیق څو اړخونه را اوځي او د تنقید د پاره هم
تحقیق یو لازمي عونډې عمل دے." (۲)

ګویا د علم زیاتولو، رښتیا معلومولو او منصفانه رایې کولو د پاره د تحقیق
او تنقید د تړون کلک ساتلو سره سره هر نقاد څه نه څه محقق او هر محقق
څه نه څه نقاد په کار دے...

Pukhto.Net
پښتو

حوالې د دغه لاندینو کتابونو او مضمونونو اخستې شوې دي

٭ ډاکټر سید عبدالله ............ اردو میں اصول تحقیق

٭ ډاکټر غلام مصطفی خان ......... تحقیق کے بنیادی لوازم

٭ ډاکټر جمیل جالبی ......... تنقیدی اور تحقیقی موضوعات پرکھنے کے اصول

د پښتو ډاټ نېټ له اړخه خپور شو



# تنقید او تحقیق

Pukhto Net
پښتو